سراج العوامل

پشتو شرح

شرح مائة عامل

شرح مائة عامل کی آسان پشتو شرح

مصنف: مولانا عبداللہ سرتاج اثری

حقـــوق الطبـــع

د كتاب نوم : سراج العوامل
شرح
نظم مائة عامل

جمع و اعداد : فضيلة الشيخ أبي معاذ عبد اللّٰه سرتاج الأثري حفظه اللّٰه
مدير
جامعة أبي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قاضي آباد بشاور باكستان

تصحيح و نظر ثاني: فضيلة الشيخ ابو منصور نصرت اللّٰه ناصر حفظه اللّٰه
مدرس :
دار القرآن والحديث السلفيه قاضي آباد بشاور باكستان

ستهنگ اينڈ ڈيزائن : مولانا ابو صالح ضياء الرحمٰن فاروقی
رابطه اينڈ واتساف : ٥٥٦٤٢٥٥ ٠٣٠٢

الناشر :

تقریظ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه اجمعين

اما بعد: ما د شيخ القرآن والحديث علامه ابومعاذ سرتاج عبد الله "الأثري" حفظه الله رساله چې د نظم مأته عامل شرح پکې ليکلې شويده ډيره په زړه پورې او په ښکلې انداز کې ليکلې شويده چې عديم المثيل ده، د ابتدائي طلباء وروڼو لپاره، ټول مطالعه کړه، الله ج دې شيخ محترم ته طويل عمر ورکړي د پاره د نشر اشاعت د دين او د قرآن او حديث د خدمت لپاره. والسلام

مولوي عبد الرزاق "العلوي"

سابق استاذ ومدرس دار القرآن والحديث السلفية قاضي آباد

19-1-2025

يوم الأحد.

بسم اللہ الرحمن الرحیم

متن نظم مائة عامل

١	بعد توحید خداوند ودرود مصطفیٰ	نعت آل پاک پیغمبر رسول مجتبیٰ
٢	ہست مدح خسرو غازي معین الدین حسین	حامي دین آفتاب معدلت ظل خدا
٣	بر خلائق واجب وبر بندہ باشد فرض عین	چون دعائي شاہزادہ سال ومہ صبح ومسا
٤	نصرت وفتح وظفر واقبال وجاہ وسلطنت	باد باقي ہر دورا تا ہست امکان بقا

بيان عوامل النحو وأنواعها

٥	عامل اندر نحو صد باشد چنین فرمودہ اند	شیخ عبد القاہر جرجاني پیر ہدا
٦	معنوي از وي دو باشد جملہ دیگر لفظیند	باز لفظي شد سماعي وقیاسي اي فتا
٧	زان نود یک دان سماعي ہفت دیگر بر قیاس	آن سماعي سیزدہ نوع است بے رو وریا

النوع الأول

٨	نوع اول ہفدہ حرف جر بود میدان یقین	کاندرین یک بیت آمد جملہ بے چون وچرا
٩	باؔ تاؔ کاف ولام وواوؔ مُنذُ ومُذ خَلا	رُبَّ حاشا مِن عدا فِي عَن عَلٰی حَتّٰی اِلٰی

النوع الثانی والثالث

۱۰	اِنَّ بَاَنَّ کاَنَّ لیت لکِنَّ لعَلَّ	ناصبِ اسمند ورافع در خبر ضد ماولا

النوع الرابع

۱۱	واو یاوَ ہمزہ وَاِلّا اَیَاوَ اَیْ ہَیا	ناصِبِ اسمند پس این ہفت حرف اے مقتدا

النوع الخامس

۱۲	اَنْ ولَنْ پس کَیِ اِذَنْ این چار حرف معتبر	نصب مستقبل کُنند این جملہ دائمًا اقتضا

النوع السادس

۱۳	اِنْ ولَمْ لمَّا ولامِ امر ولائی نھي نیز	پنج حرف جازم فعلند ہر یک بید غا

النوع السابع

۱٤	مَنْ ومَا مَھما واَیُّ حَیثُما اِذْمَا مَتیٰ	اَیْنَمَا اَنّٰی نُہ اسم جازمند مر فعل را

النوع الثامن

۱۵	ناصب اسم منکر نوع ہشتم چار اسم	ہست چون تمیز باشد آن منکر ہر کجا
۱٦	اوَّلین لفظ عشر باشد مرکب با اَحَد	ہمچنین تاسعَ تِسْعِینَ بر شمر این حکم را
۱۷	باز ثاني کَمْ چو استفہام باشد نی خبر	ثالث ایشان کَاَیِّنْ رابع ایشان کَذَا

النوع التاسع

۱۸	نہ بود اسمائی افعالی کز ان شش ناصبند	دُونَکَ بَلْہَ عَلَیْکَ حَیَّہَلْ باشد وہا
۱۹	پس رُوَیدَ باز رافع اسم راہیہات دان	باز شَتَّانَ است سَرُعَانَ یاد گیر این بیتہا

النوع العاشر

۲۰	نوع عاشر سیزدہ فعلند کایشان ناقصند	رافع اسمند وناصب در خبر چون مَا وَلَا
۲۱	کانَ صَارَ أَصْبَحَ أَمْسٰی و أَضْحٰی ظَلَّ بَاتَ	مَافَتِئَ مَادَامَ مَاانْفَکَّ لَیْسَ باشد از قفا
۲۲	مابَرِحَ مازال أفعالی کزینہا مشتقند	ہر کُجا بینی ہَمین حکم ست در جُملہ روا

النوع الحادي عشر

۲۳	دیگر افعال مقارب در عمل چون ناقصند	ہست آن کَادَ کَرُبَ بَااَوْشَکَ دیگر عَسٰی

النوع الثاني عشر

۲٤	دیگر افعال یقین وشک بود کان بر دو اسم	چون در آید ہر یکے منصوب سازد ہر دورا
۲۵	خِلْتُ باشد باعِلْمتُ پس حِسِبْتُ باز عَمْتُ	پس ظَنَنْتُ بارَاَیتُ پس وَجَدتُ بے خطاء

النوع الثالث عشر

۲٦	رافع اسمائی جنس افعالِ مدح وذم بود	چار باشد نِعْمَ بِئْسَ سَاءَ آنکہ حَبَّذَا

عوامل القياسية

۲۷	بعد ازان ہفت قیاسي اسم فاعل مصدر رست	اسم مفعول و مضاف و فعل باشد مطلقا
۲۸	پس صفت باشد کہ آن مانند اسمِ فاعلِست	ہفتم اسم تام باشد ناصِبِ تمیز را

عوامل معنوية

۲۹	عامل فعل مضارع معنوي باشد بدان	ہمچنین معنی بود عامل یقین در مبتدا
۳۰	دولت و اقبال و جاہِ شاہزادہ بر کمال	در تضاعف باد دائم ختم کردم بر دُعاء

❋ ❋ ❋

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وَكَفى والصلاةُ والسلام على رسول لله وعلى آله واصحابِه و من والَاه . اَمَّا بَعْدُ :

د دې كتاب نوم دے " نظم مائة عامل " ، معنى ئې دا ده : په نظم كې د نحوې سل (١٠٠) عوامل .

د الله عزوجل په مدد سره د دې كتاب يوه مختصره شرحه مونږه وليكله چې طالب العلمان ترې فائده واخلي دا كتاب د ابتدائى طالب العلمانو لپاره په نحو كې يو مفيد او ممتاز كتاب دے .

دهر علم شروع كولو نه مخكې يو څو خبرو پيژندل ضروري دي:

١/ تعريف د علم .　٢/موضوع د علم .　٣/ غرض د علم
٤/ فضيلت د علم .　٥/ واضع د علم .　٦/ دمصنف پيژندنه
٧/ د كتاب د زده كړې طريقه .

(١) **تعريف دعلم النحو** : نحو لغت كې په ډيرو معانو سره راځي:

١/ قصد　٢/ طرف　٣/ إعراض　٤/صيانة　٥/ ميلان　٦/ نوع
٧/ قسم　٨/ مقدار　٩/ مثل　١٠/ مرور يعني تيريدل .

اصطلاح كې : « هُوَ عِلْمٌ بِأُصُوْلٍ يعْرَفُ بِهَا أَحْوَالُ اَوَ آخِرِ الْكَلِمِ الثَّلَاثِ مِنْ حَيثُ الْإِعْرَابِ وَالْبِنَاء وَكَيفِيةُ التَرْكِيبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ.

ترجمه : علم نحو پيژندل دی د هغه أصول او قواعد چه د هغې په وجه باندې پيژندل کيږي أحوال د آخر د دري کلمو : اسم ، فعل، حرف ، دحيثيته د إعراب او د بناء نه ، او پيژندل کيږي پدې سره طريقه د ملاو ولو د يوې کلمې د بلې کلمې سره .

(٢) موضوع دعلم النحو : « اَلْكَلِمَةُ وَالْكَلَامُ مِنْ حَيثُ الْإِعْرَاب وَ الْبِنَاءُ» .

ترجمه: دعلم النحو موضوع کلمه او کلام ده دحيثيته داعراب او دبناء نه .

(٣) غرض دعلم النحو : « صِيانَة الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاءِ اللَّفْظِيِّ فِي كَلَامِ الْعَرَبِ مِنْ حَيثُ الْاِعْرَابُ وَالْبِنَاءِ » .

ترجمه : بچ کول د ذهن دي د خطائی لفظي نه په کلام عربی کي د حيثيته د اعراب او بناء نه ، چې پدې سره فهم د شريعت راځي په صحيح طريقه باندې .

(٤) فضيلت دعلم النحو : امام شعبي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائي : « اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ لا يسْتَغْني عَنْهُ » . [انظر الجامع لأخلاق الراوي] .

ترجمه : نحو په خبرو کې داسې ده لکه مالګه په خوراک کې بې پرواهی نه کيږي د هغې نه .

همدغه شان نور علماء وائي: «اَلصَّرْفُ أُمُّ الْعُلُوْمِ وَ النَّحْوُ أَبُوْهَا » .

ترجمه : علم الصرف د علومو مور ده او نحو ئې پلار دے .

« اَلنَّحْوُ فِي الْعُلُوْمِ كَالرُّوْحِ فِي الْجَسَدِ » .

ترجمه : نحو په علومو کې داسې ده لکه روح په بدن کې .

(٥) **واضع دعلم النحو** : بنا بر قول راجح واضع د علم النحو ظالم بن عمرو بن سفيان بن جندل چه مشهور دے په ابو الأسود الدوئلي سره په حکم د علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره هغه دا قواعد برابر کړل .

(٦) **د مصنف پيژندنه** : ابو بکر عبد القاهر بن عبد الرحمٰن بن محمد الجرجاني (٤٠٠ ﻫ) کې پيدا شوے دے او په (٤٧١ ﻫ) وفات شوے دے په بغداد کې ، او په نحو او أدب باندې ئې ښه مهارت لرو، او د علم البلاغة مؤسس به ورته ويل کيده ، ډير کتابونه ئې ليکلي دي يو د هغه کتابونو نه " نظم مائة عامل" دے په فارسۍ ژبه کې دا د نظم په طريقه ډير مفيد کتاب دے او جرجاني ورته ځکه وائی چه دا په جرجان کې پيدا شوے وو او دا په ايران کې يوه علاقه ده .

(٧) **د کتاب د زده کړې طريقه** : اول به دا کتاب حفظ کړې په طالبانو او طالباتو باندې ، بيا به دويم کرت لفظی ترجمه او تمرين وکړې نو بيا به دا کتاب شاګردانو ته فائده ورکړي او پوهه به شي .

***

بعد توحید خدا وند و درود مصطفی

ترجمه : روسته د توحيد د الله رب العالمين نه او درود په **محمد** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غوره کړې شوي پيغمبر نه .

نعت آل پاک پیغمبر رسول مجتبیٰ

ترجمه : وي دې صفت د پاک خاندان د غوره کړې شوي پيغمبر چه رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دے .

ہست مدح خسرو غازي معین الدین حسین

ترجمه : وي دې صفت د خسر و غازي معين الدين حسين .

حامي دین آفتاب معدلت ظل خدا

ترجمه:چه ساتونکې د دين دے او لمر د عدل دے او سوري د الله دے.

بر خلائق واجب و بر بنده باشد فرض عین

ترجمه : په ټولو خلکو باندې واجب دي او په ما بنده باندې فرض عين دے .

چون دعائي شاہزادہ سال و مہ صبح ومسا

ترجمه: لکه دعا د باچا د ځوي په کال کې او مياشت کې او صباح بيګا .

نصرت و فتح و ظفر و اقبال و جاه و سلطنت

ترجمه : مدد دې وي او فتح او کامیابی او مخکښې تلل او مرتبه او باچاهي دې وي .

باد باقي هر دورا تا هست امکان بقا

ترجمه : وي دې باقي دواړو ته په دنیا کښې تر څو چه وي امکان د باقي پاتې کیدلو .

د دې پورتني اشعارو مختصره شرح او وضاحت:

بعد توحید خداوند و درود مصطفٰی	نعت آل پاک پیغمبر رسول مجتبٰی

١/ **توحید** : دا صیغه د مصدر د باب تفعیل نه ده **په لغت کښې** معنی ده الله یو ګڼړل .

اصطلاح کښې: ځانله کول د الله عزوجل په عباداتو کښې .

بیا توحید په درې قسمه دی :

(١) توحید الربوبیت (٢) توحید الألوهیت (٣) توحید الأسماء والصفات.

(٢) **خداوند**: په معنی د مالک سره دے .

(٣) **مصطفی** : صیغه د اسم مفعول د باب افتعال نه اصل کښې مصتفی وو بیا تاء په طاء سره بدله شوه معنی ئې ده غوره کړې شوے.

(٤) **نعت**: صفت ته وائی .

(٥) **آل**: دا په اصل کښې اهل وو نو ها خلاف القیاس په الف سره بدله شوه نو آل شو معنی ئې داده خاندان د پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، یا تابعدار د پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

(٦) **پیغمبر** : دا په اصل کښې پیغامبر وه الف د تخفیف لپاره حذف شو نو پیغمبر شو معنی ئې دا شوه د الله پیغام وړونکې (یعنې استازې) .

(٧) **رسول** : رسول په لغت کښې دې ته وائی : چه د یو کس خط وړی بل کس ته ، پیغمبران هم د الله احکامات بندګانو ته وړې .

اصطلاح کښې: هغه څوک چه غوره کړې شوے دے د نبوت او د رسالت لپاره او حکم ئې ورته کړې وې .

(٨) **مجتبی**: دا د باب افتعال نه صیغه د اسم مفعول ده معنی ئې ده غوره کړې شوے .

هست مدح خسرو غازي معین الدین حسین	حامي دین آفتاب معدلت ظل خدا

(١) **مدح**: صفت (یعنې ستاینې) ته وائی .

(٢) **خسرو**: دا په فارسیٔ ژبه کښې د باچاهانو لقب دے .

(٣) **غازي**: صیغه د اسم فاعل ده د غَزَا ، یغْزُوْ ، غَزَاءً وَ غَزْوَةً معنی ئې ده غزا کونکې (یعنې د الله د لارې مجاهد) .



(٤) **معين الدين**:دا د باچاه لقب دي معنی د دين مدد کونکي دي.

(٥) **حسين**: دا د باچاه خپل نوم دے .

(٦) **حامي** :دا صيغه د اسم فاعل ده حَمَي يحْمِيْ وَحَمْيًا د باب ضَرَبَ يَضْرِبُ نه معنی ئې ده ساتونکې د دين .

(٧) **آفتاب**: لمر ته وائی .

(٨) **معدلت**: عدل ته وائی معنی ئې ده لمر د انصاف .

(٩) **ظل خدا** :سورې د الله رب العالمين دے په مونږ باندې .

په يو حديث کې راځی : « السُّلْطَانُ ظِلُّ اللهِ فِي الْأَرْضِ » .

دا حديث شيخ الباني رَحِمَهُ ٱللَّهُ په "سلسلة الضعيفه : ١/ ١٦٦١ " کې راوړے دے او ضعيف او منکرت ئې ورته ويلې دے ، او په سنن الکبرىٰ للبيهقي رقم ١٦٧٤٧ پدې کې عباس بن عبد الله الترفقي مجهول دے ، مسند البزار کې مسند ابن عمر : ٥٣٨٣ ، پدې کې سعيد بن سنان دے او هغه منکرالحديث دے .

مقصد د شعر دا دی: د حمد او صلاة نه روسته د باچاه صفت ئې وکړو چه حسين باچاه مجاهد او ديندراه او عدل کونکې دے او په مونږ باندې د الله سورې دے .

بر خلائق واجب وبر بنده باشد فرض عين	چون دعائ شاهزاده سال ومه صبح ومسا

(١) **فرض عين**: فرض په دوه قسمه دے :

١ / فرض كفائي ٢ / فرض عين .

(٢) **فرض كفائي تعريف** : چه لږ خلک یو حکم ادا کړي او د نورو نه کافي شي .

(٣) **فرض عين تعريف** :هغه حکم ته وائی چه په ټولو مسلمانانو باندې لازم وي .

مقصد په دې خبرو کې دا دی : چه په ټولو مسلمانانو باندې د باچاه صفت کول لازم دي ځکه چه هر چا سره ئیپاحسان کړے دے او په ما باندې د باچاه صفت کول فرض عين دی په کال او میاشت او صباح او بیګا کې (یعني په ټول عمر کې) .

نصرت وفتح وظفر واقبال وجاه وسلطنت	باد باقی ہر دورا تا ہست امکان بقا

(١) **نصرت** : مدد د الله دې وي ، مأخوذ دے د باب نصر ينصر نه .

(٢) **فتح** : او فتح دې وي په دشمنانو ، مأخوذ دے د باب فتح يفتح نه .

(٣)**ظفر** : او کاميابی دې وي د مصائب د دنيا نه ، مأ خوذ دے د ظفر نه .

(٤) **اقبال** : مخکې والې ، أو بخت ته وائی .

(٥) **جاه** : مرتبه .

(٦) **سلطنت** : باچاهۍ ته وائی .

مقصد د دې خبرې دا دی : دا باچاه دې کامياب وي او الله تعالیٰ دې ورسره مدد وکړي او الله تعالیٰ دې فتح ورکړي او مخکې والې او

مرتبه دې ورکړي تر څو چه په دنيا کې امکان د باقي پاتې کيدلو وي .

فائده : ډير مصنفينو د خپلو کتابونو په خطبو کې د باچاهانو صفت کړې دے د دې يو څو مقاصد دي .

١/ د نيکانو او صالحينو د خير ذکر کول ځکه چه دا په اکثر باچاهانو کې دا صفت موجود وو .

٢/ دغه ښه صفات د ترغيب لپاره ذکر کول چه نور باچاهان ئې په ځان کې پيدا کړي .

٣/ بعضې مصنفينو به د باچاهانو صفت صرف د خپلو مفادو لپاره کولو چه باچاهان ورته څه ورکړي .



بیان عوامل النحو وانواعها :

بیان دے د نحوي په عواملو کې او په اقسامو د هغې کې .

عامل اندر نحو صد باشد چنین فرموده اند

(۱) **ترجمه** : عوامل په نحو کې سل (۱۰۰) دي لکه څرنګه چه فرمايلي دي .

شیخ عبد القاهر جرجاني پیر هدا

(۲) **ترجمه** : شیخ عبد القاهر جرجاني چه خودونکې د هدایت (یعنې د دین) .

معنوي ازوي دو باشد جمله دیگر لفظیند

(۳)**ترجمه** : معنوي د دې عواملو نه دوه دي نور ټول لفظي دي .

باز لفظي شد سماعي و قیاسي اي فتا

(٤)**ترجمه**: بیا لفظي په دوه قسمه دي سماعي او قیاسي اي ځوانه .

زان نود یک دان سماعي هفت دیگر بر قیاس

(۵)**ترجمه**: د دغه لفظي عواملو نه وشماره (۹۱) سماعي او ۷ نور قیاسي دي .

آن سماعي سيزده نوع است بے رو وريا

(٦)**ترجمه**: هغه سماعي ديارلس نوعې دي بې د شک او شبهې نه .

وضاحت:

عوامل جمعه د عامل ده معنى عمل کونکې په نحوه کې .

عوامل ټول سل (١٠٠) دي : او په دوه قسمه دي :

١/ لفظي ٢/ معنوي .

عامل معنوي په دوه قسمه دي : ١/ عامل د مبتدا او خبر .

٢/ فعل مضارع چه خالی وي د حروفې نواصب او جوازمو نه .

او عامل لفظي هم په دوه قسمه دي : ١/ قياسي ٢/ سماعي .

قياسي: ټول (٧) عوامل دي : ١/ مطلق فعل ٢/ مصدر

٣ /اسم فاعل ٤/ اسم مفعول ٥/ صفت مشبه

٦/اسم تام ٧/ اسم مضاف .

سماعي: په (١٣) نوعو باندې مشتمل دي ، او سماعي ټول (٩١) دي ، بيا سماعي په درې قسمه دي :

اول: حرفي چه دا (٤١) دي . **دويم**: اسمي دي چه دا (٢٢) دي.

دريم: فعلي دي چه دا (٢٨) دي .

حرفي بيا شپږ نوعې دي : ١ / حروف جاره دي چه دا (١٧) دي.

٢/ مشبه بالفعل دي چه دا (٦) دي .

٣/ ماولا مشبه بليس دي چه دا (٢) دي .

٤/ حروف نواصب دي چه دا (٧) دي .

٥/ نواصب د فعل مضارع دي چه هغه (٤) دي .

٦/ جوازم د فعل مضارع دي چه هغه (٩) دي .

اسمي كې درې نوعې دي:

١/ اسماء جازمه دي چه دا (٩) دي .

٢/ اسماء نواصب دي چه هغه (٤) دي .

٣/ اسماء افعال دي چه هغه (٩) دي .

فعلي په (٤) نوعو باندې مشتمل دي:

١/ افعال ناقصه دي چه دا ټول (١٣) دي .

٢/ افعال مقاربه دي چه دا ټول (٤) دي .

٣/ افعال مدح او ذم دي چه دا (٤) دي .

٤/ افعال قلوب دي چه دا ټول (٧) دي .

نو عوامل مجموعه ټول (١٠٠) شو .

***

نقشه عوامل ۱۰۰

لفظي (۲)
- عامل مبتدا او خبر
- عامل فعل مضارع

معنوي(۲)
- قياسي(۷)
  - مطلق مصدر
  - مصدر
  - اسم فاعل
  - اسم مفعول
  - صفت مشبه
  - اسم مضاف
  - اسم تام
- سماعي(۹۱)
  - حرفي (٤١)
    - حروف جاره (۱۷)
    - مشبه بالفعل(٦)
    - ماولامشابه بليس(۲)
    - حروف ناصب اسم(۷)
    - ناصب مضارع(٤)
    - جازم مضارع(٥)
  - اسمي (۲۲)
    - اسماءعامله فعل مضارع (۹)
    - اسماء ناصب (٤)
    - اسماء افعال(۹)
  - فعلي(۲۸)
    - افعال ناقصه (۱۳)
    - افعال مقاربه (٤)
    - افعال مدح او ذم (٤)
    - افعال قلوب (۷)



النـــوع الاول:

اوله نوعه

نوع اول ہفدہ حرف جر بود میدان یقین

ترجمه : اوله نوعه حروف جاره (۱۷) دي په شمار د يقين سره .

کاندرین یک بیت آمد جمله بے چون وچرا

ترجمه : دا ټول راځي په دغه يو بيت کې بغير د شک او شبهې نه .

با وَ تا وَ کاف و لام و واوَ مُنذُ ومُذ خَلا

ترجمه :باء ده تاء ده کاف دے لام دے واو دے منذ دے مذ دے خلا دے .

رُبَّ حاشا مِن عدا فِي عَنْ عَلَىٰ حَتّىٰ اِلىٰ

ترجمه : رب دے حاشا دے من دے عدا دے فی دے عن دے علی دے حتی دے إلى دے .

تشريح:

اوله نوعه په هغه حروفو کې ده چه جر ورکوی آخر د اسم ته او ديته حروف جاره وائی ، او دا حروف په اسم باندې داخليږي او آخر ته جر ورکوی (يعني زير) تاء او واو هغه وخت جر ورکوی چه کله



د قسم لپاره راشي ، او دا حروف جاره (١٧) دي چې په لاندې ډول ذکر دي :

١/باء ٢/ تاء ٣/ کاف ٤/ لام ٥/ واو ٦/ منذ
٧/مذ ٨/خلا ٩/ رُبَّ ١٠/ حاشا ١١/ من ١٢/ عدا
١٣/ في ١٤/ عن ١٥/ على ١٦/ حتّى ١٧/ إلى .

بعضو علماؤ (٢٠) ته رسولي دي : ١٨/ كَي ١٩/لَعَلَّ ٢٠/ متى .

د دې عملي مثالونه:

باء : كَفىٰ بِاللّٰهِ شَهِيْداً (باللّٰهِ) .

تاء : وَ تَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ (تاللّٰهِ) .

لام: لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوَاتِ (لِلّٰهِ) .

كاف: كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ (كَمَثَلٍ) .

واو : وَالطُّوْرِ (والطورِ) .

منذ : مَا رَأَيْتُهُ مُنْذ شَهرٍ (منذ شهرٍ) .

مذ : مَا رَأَيْتُهُ مُذْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ (مذ يومِ) .

فائده : مُنْذُ او مُذْ کې فرق دا دے : ١/ اول چې مُنْذُ ډير وقت لپاره راځي او مُذْ لږ وقت لپاره راځي .

فائده: منذ او مذ دا دواړه راځي لپاره د ابتداء د غايه په زمان او مکان کې او يا دواړه په معنى د فِي سره راځي .

خلا : جَاءَنِي الْقَوم خَلَا زَيْدٍ (خلا زيدٍ) .

رُبّ : رُبَّ صَائِمٍ لَمْ يَنَلِ الثَّوابَ (رب صائمٍ).

حاشا: جَاءَنِي الْقَوْمُ حَاشَا زَيْدٍ (حاشا زيدٍ).

مِنْ : مِنَ اللّٰهِ ، مِنَ النَّاسِ (من اللّٰهِ).

عدا : عَدَا حَامِدٍ (حامدٍ) .

فِي : فِي الْقِصَاصِ ، فِي الْأَرْضِ (في القصاصِ).

عَنْ : عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ : (عن ذِكرِ ربي).

على: عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى (على العرشِ) .

حتّى : اَكَلْتُ السَّمْكَةَ حَتّٰى رَأْسِهَا (حتى رأْسِها).

اِلى : اِلٰى اَمْوَالِكُمْ (اِلى اموالكم).

فائده: دا حروف په اسماؤ كې غير منصرف ته جر نه وركوي ځكه په غير منصرف باندې تنوين او كسره نشي راتلې لكه مثال : عَنْ مُعَاوِيَةَ . مِنْ اَسَاوِرَ.

❀❀❀

النوع الثاني والثالث

دويمه او دريمه نوعه

اِنَّ بَاَنَّ كَاَنَّ ليتَ لٰكِنَّ لَعَلَّ

ترجمه: اِنَّ ، اَنَّ ، كاَنّ ، ليت ، لٰكن ، لعلّ .

ناصبِ اسمند ورافع در خبر ضد ماولا

ترجمه:نصب ورکوي اسم ته او رفع ورکوي خبر ته په ضد د مَا وَلَا.

تشريح:

حروف مشبه بالفعل شپږ دي :

١/ اِنَّ ٢/اَنَّ ٣/كَأَنَّ ٤لَيتَ ٥/لٰكنَّ ٦/ لَعَلَّ .

دا حروف داخليږي په مبتدا او خبر باندې ، مبتدا ته به نصب ورکوي او خبر ته رفع ورکوي ، او مبتدا ته به اسم د دې ويلې کيږی او خبر ته به خبر ددې ويلې کيږي :لکه مثال: اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ .

طريقه د استعمال : اِنَّ حرف دے دحروف مشبه بالفعل نه زَيدًا ئې اسم د اِنَّ ، قَائِمٌ ئې خبر د اِنَّ شو .

وجه د تسميه: دې حروفو ته ولې حروف مشبه بالفعل وائې ؟ ځکه چې دا مشابه دي د فعل سره په معنی او په الفاظو کې ، الفاظو کې داسې : چه فعل هم ثلاثي او رباعي راځي او دا هم ثلاثي

او رباعي راځي او معنوي مشابهت ئې هم شته چه دلته ئې ذکر کول مناسب ندي .

د دې عملي مثالونه:

إنّ : إِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ . أَنّ : عَلِمْتُ أَنَّ الطَّالِبَ مُجْتَهِدٌ .

كأَنَّ : كأنّ المعلِّمَ اَبٌ . لَيْتَ : لَيْتَ الشّمسَ طَالِعَةٌ .

لٰكِنَّ : اَلْمَدْرَسَةُ جَمِيْلَةٌ لٰكِنّ الفِنَاءَ ضَيْقٌ .

لَعَلَّ : لَعَلّ الْمَطرَ شَدِيْدٌ .

مَا وَلاَ مُشَبّهتانِ بليسَ

ما ولا چه مشابه دی د ليس سره په معنى او عمل کې ، معنًا داسې لکه څرنګه چه لَيسَ د نفى لپاره راځى همدغه شان دا هم د نفى لپاره راځى.

په عمل کې داسې لکه څرنګه چه لَيسَ په مبتدا او خبر باندې داخليږى همدغه رنګه ما او لا هم په مبتدا خبر باندې داخليږي .

دريم : لکه څرنګه چه لَيسَ اسم ته رفع خبر ته نصب ورکوي همدغه رنګه دا هم اسم ته رفع خبر ته نصب ورکوي . مثال : مَا زَيْدٌ قَائِمًا :

د ما او لا عمل بيا نوي:

ما او لا دا اسم مرفوع او خبر منصوب غواړى (يعنى مبتدا ته رفع ورکوى او خبر ته نصب ورکوى) لکه مثال : مَا زَيْدٌ قَائِماً : لَا رَجُلٌ ظَرِيْفاً .

طريقه د استعمال: ما مشابه بليسَ زيدٌ اسم د ما قَائِماً خبر د ما شو .

فرق په مابين د ما او لا كې:

مَا : دا داخليږي په معرفه او نكره دواړو باندې ، د معرفې مثال مَا زَيْدٌ قَائِماً، د نكرې مثال : مَا رَجُلٌ قَائِماً ، او هر چه لَا دے دا صرف په نكرې باندې داخليږي : مثال : لَا رَجُلٌ ظَرِيْفاً .

د دې عملي مثالونه:

(١) مَا زَيْدٌ لِصًّا .

(٢) لَا رَجُلٌ كَرِيْماً .

(٣) مَا رَجُلٌ حَاضِرًا .

(٤) لَا حِمَارٌ مَوْجُوْدًا .

سؤالات و تدريبات:

د علم النحو تعريف و ليكئ؟

دعلم النحو (١٠) لس معاني بيان كړئ؟

د علم النحو موضوع ذكر كړئ؟ د دې كتاب مصنف څوك دے ؟

عوامل ټول څو دي او نقشه د عواملو ذكر كړئ؟

حروف جاره څو دي او څه عمل كوي ؟

حروف مشبه بالفعل څو دي او څه عمل كوي ؟

ما او لا مشابه بليس ، د ليس سره په څه كې مشابهت دي ؟

حروف جاره څو دي او څه عمل كوي ؟

د مَا او لَا په مابين كې څه فرق دے ؟

مَا او لَا په څه داخليږي ؟ مَا اولَا څه عمل كوي ؟

***

په لاندې جملو او کلماتو باندې حرکات وليکئ؟

جَلَسْتُ علي الأرض . في الحديقة.

اَقْبَلُ التَلَاميذُ عدا حامد . منَ اللّٰه .

اَلْحَمْدُ لله . اَلْخَالَةُ كالأُم .

اشهد أَنَّ محمدا رسول الله . مَا خَالد قائِما .

لَا ر جل سائقا . و الله لأَفعلنَّ الخير .

تا للّٰهِ لانصرن المظلوم . بالكتابة .

إن الدين يسر . ليت الرجل شجاع .

كأن العلم نور .

❋❋❋

النــوع الــرابع:

څلورمه نوعه

واو یا وَ ہمزہ وَاِلّا اَیا وَ اَیْ ہیا

ترجمه: واو ، يا ، او همزه ، اِلَّا ، اَيا ، او اَي ، هيا .

ناصبِ اسمند پس این ہفت حرف اے مقتدا

ترجمه: دا (۷) حروف نصب ورکوي اسم ته اي مقتدا .

تشريح:

هغه حروف چه اسم ته نصب ورکوي هغه (۷) حروف دي .

(۱) **واو**: چه په معنی د مع سره وي لکه مثال ئې دا دے : اِسْتَوَیٰ الْمَاءُ وَالْخَشَبَة ، اَيْ مَعَ الْخَشَبَةِ .

ترجمه: برابرې شوے اوبه د لرګی سره .

طريقه د تركيب: اِسْتَوَیٰ دا فعل شو اَلْمَاءُ دا ورلره فاعل شو .

واو : په معنی د مَعَ سره دا ورلره مضاف شو او الخشبة دا ورلره مضاف اليه شو نو مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول فيه شو فعل سره د فاعل او مفعول فيه نه جمله فعليه خبريه شوه نو پدې جمله کې تاسو دا وکتل چه دلته واو په معنی د مع سره دے او الخشبةَ ته ئې نصب ورکړے دے .

(۲) **اِلَّا** : دا حرف د استثناء دے د حروفو مستثنیٰ نه او ما بعد به ئې منصوب راځی لکه : جَاءَنِيْ الْقَوْمِ اِلَّا زَيْداً .

طريقه د ترکيب : جاء دا فعل (ن) وقايه (ي) مفعول بِه مقدم القومُ مستثنی منه (اِلَّا) حرف استثناء (زيداً) دا مستثنی، مستثنی منه سره د مستثنی نه فاعل شو لپاره د مذکوره فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول بِه نه جمله فعليه خبريه .

او دا نور پنځه حروف د ندا لپاره راځي چه لاندې ذکر دي:

۱/يا ۲/ايا ۳/هيا ٤/اي ٥/همزه مفتوحه (يعنی اَ) دې حروفو ته حروف ندا وائي .

(۲) **وجه د تسميه**: دې حروفو ته ولې ندا وائي ؟ ځکه چه د دې حروفو په ذريعه سره مخاطب ته اواز کيدلې شي (يا) دا راځي لپاره د ندا قريب او بعيد (ايا هَيا) دا دواړه راځی لپاره د ندا بعيد دي (اَي) او همزه مفتوحه يعني (اَ) دا راځی لپاره د ندا قريب .

فائده: دا پنځه حروف نصب ورکوی هغه اسم ته کله چه هغه اسم بل اسم ته مضاف وي (يعنی منادیٰ به مضاف ته نصب ورکوي) .

د دې عملي مثالونه:

يا : يَا صَاحِبَ الْجَمَلِ . أَ : أَصَاحِبَ الدَّرَجَاتِ .

أَيا : أَيَا ابنَ مُحَمَّدٍ . هَيَا : هَيَا صَاحِبَ الْفَرَسِ .

أَيْ : اي عَبْدَ اللّٰه .

سؤالات وتدريبات:

(١) هغه حروف چه اسم ته نصب ورکوي هغه څو دي ذکر ئې کړه ؟

(٢) حروف ندا څو دي ذکر ئې کړه ؟

(٣) حروف ندا کومې منادیٰ ته نصب ورکوي ؟

(٤) د حروف ندا هر حرف ته مثال ذکر کړه ؟

(٥) پدې لاندې جملو باندې اعراب ولګوه ؟

١/عن الله   ٢/ أَنَّ الله   ٣/ يا صاحب الكتاب

٤/ اِلى البيت   ٥/ هيا صاحب البيت   ٦/ كأَن العلم نور

٧/ على رسول الله   ٨/مِنْ جانب الطور   ٩/ أَي عبد الرحيم .

١٠/ اِنَّ النحو جميل .



النــــوع الخــــامس:

پنځمه نوعه :

اَنْ ولَنْ پس كَيْ اِذَنْ اين چار حرف معتبر

ترجمه:ان، لن، پس، د كي، او اذن نه دا څلور حروف معتبر دي .

نصب مستقبل كُنند اين جمله دائمًا اقتضا

ترجمه: نصب وركوي فعل مضارع ته دا ټول هميشه ددې تقاضا كوي.

تشريح

حروف نواصب الفعل : يعنى هغه حروف چه نصب وركوى فعل مضارع ته هغه څلور دي : ١/ أَنْ ٢/ لَنْ ٣/ كَيْ ٤/ اِذَنْ .

د دې عملي مثالونه:

(١) أَنْ : أُرِيدُ أَنْ أَذْهَبَ . (٢) لَنْ : لَنْ أَكْذِبَ .

(٣) كَيْ: ذَهَبْتُ اِلىٰ المسجدِ كَيْ أُصلِيَّ . (٤) اِذَنْ : إِجْتَهِدْ إِذَنْ تَنْجَحَ .

سؤالات وتدريبات:

(١) حروف نواصب الفعل څو دي وليكه او په چا باندې داخليږي ؟

(٢) د اَنْ . يو مثال وليكه ؟ (٣) د لَنْ . يو مثال وليكه ؟

(٤) د اِذَنْ . يو مثال وليكه ؟ (٥)حروف نواصب څه عمل كوي؟



النــــوع الســـــادس:

شپږمه نوعه :

اِنْ ولَمْ لمَّا ولامِ امر ولائِي نهي نيز

ترجمه:ان ، او لم ، او لمَّا، او لام امر ، او لائي نهي همدارنګه .

پنج حرف جازم فعلند ہر یک بید غا

ترجمه: دا پنځه حروف جزم ورکوي فعل ته هر يو ځانله ځانله .

تشريح :

هغه حروف چه جزم ورکوي فعل مضارع ته دا پنځه حروف دي :

١/ اِنْ ٢/ لَمْ ٣/ لمَّا ٤/ لام امر ٥/ لام نهي .

د دې عملي مثالونه:

(١)اِنْ : اِنْ تُذَاكِرْ دُرُوْسَک تَحْفَظْهَا. (٢) لَمْ: لَمْ نَرْسُبْ فِيْ الْاِمْتِحَانِ.

(٣)لمَا : لَمَّا يَسْمَعْ مُحَمَّدُ الدَّرْسَ. (٤) لام امر : لِيُدَافِعْ كُلُّ مُسْلِمٌ عَنِ الْاِسْلَامِ . (٥) لام نهي : لَا تَهْمَلْ وَاجِبَک .

فائده: لم داخليږي په فعل مضارع باندې اخر ته جزم ورکوي لکه لَمْ يَضْرِبْ .

او په معنی کې هم عمل کوي مضارع مثبته په ماضي منفي سره ګرځوي لکه لَمْ يَضْرِبْ ، وهل ندي کړي هغه يو سړی په تيره شوې

زمانه کې.

او لمَّا هم دغه رنګه عمل کوي چې مضارع مثبته په ماضي منفي سره ګرځوي.

فائده : فرق په مابين د لم او لمَّا کې : ١/ لَمْ : کې استغراق شرط نه دے او هر چه لمَّا دے نو دا خاص دے په استغراق پورې : لکه مثال : لمَّا يضْرِبْ زَيْدٌ ، معنى به داسې شي : وهل ندی کړی زيد په هيڅ يو وخت د تيره شوې زمانه کې.

او لَمْ يضْرِبْ ، معنى به داسې شی چه وهل ندی کړي په تيره شوې زمانه کې.

سؤالات وتدريبات:

(١) حروف جوازم څو دي ذکر ئې کړه ؟

(٢) لَمْ په چا داخليږي او ذکر ئې کړه ؟

(٣) د لَمْ او لمَّا په مابين کې فرق ذکر کړه ؟

(٤) د حروف جوازم يو يو مثال ذکر کړه ؟

***

النــــوع الســــابع:

ومه نوعه :

مَنْ وَمَا مَهْمَا وأَيٌّ حَيثُمَا اِذْمَا مَتىٰ

ترجمه: من، او ما، اومهما، او اي، او حيث ، او اذما ، متیٰ .

اَيْنَمَا اَنّٰى نُه اسم جازمند مر فعل را

ترجمه: اينما او أنىٰ دا (۹) اسماء جازمه دي يعنې جزم ورکوي خاص فعل لره .

تشريح:

هغه اسماء چه جزم ورکوي فعل مضارع ته (۹) دي :

۱/ مَنْ ۲/ مَا ۳/ أَيٌّ ٤/ مَتٰى ٥/ أَينَمَا

٦/ مَهْمَا ۷/ حَيثُمَا ۸/ اِذْ مَا ۹/ أَنّٰى .

او دا اسماء جزم ورکوي فعل مضارع ته او مشتمل به وي په معنی د اِنْ سره او دا اسماء داخليږي په دوه فعلونو باندې اول به سبب وي لپاره د فعل ثاني اول ته شرط ويلې کيږي او دويم ته جزا ويلې کيږي او جزم پکې واجب دے .

د دې عملي مثالونه:

(١) أَي : أَيُّهُم يَضْرِبْنِيْ اخرِجْهُ . (٢) مَا : ما تَقْرأْ تَسْتَفِدْ منه .

(٣) مَنْ : منْ يفعَلْ خيراً يُجْزَ به . (٤) مَهْمَا: مَهما تعملْ تجزَبه.

(٥) اذما : اذما تفعلْ شرًّا تُحَاسِبْ به .

(٦) متىٰ : متىٰ يُسافِرْ أَخِي أُسافِرْ معه .

(٧) أَينَمَا : اينما تكونوا يدركْكُمُ الموت .

(٨) أَنّٰى: انّي تجلِسْ اجلِسْ . (٩) حَيْثُمَا : حَيْثُمَا تذْهبْ أَذْهبْ .

سؤالات وتدريبات:

(١) هغه اسماء چه جزم ورکوي فعل مضارع ته هغه څو دي او ذکر ئې کړه ؟

(٢) دا اسماء جازمه په څو فعلونو باندې داخليږي ؟

(٣) د هر حرف يو يو مثال وليکه ؟

(٤) دا لاندينۍ جملې پوره کړه ؟

(١) متىٰ تذهبْ .... (٢) مَنْ يحفظْ درساً ....

(٣) مَا تقرأْ ...... (٤) أَنّٰى تقعدْ ....

(٥) حَيثُمَا تَمْشِي ....



النـــوع الثـــامن:

اتمه نوعه :

ناصب اسم منكر نوع هشتم چار اسم

ترجمه: نصب ورکوي اسم نکرې ته اتمه نوعه څلور اسمونه دي .

هست چون تميز باشد آن منكر هر كجا

ترجمه : دا نصب به بنا بر تميز ورکوي چه دا اسم نکره په هر ځائی کي وي .

اوّلين لفظ عشر باشد مركب با اَحَد

ترجمه: اول لفظ د عشر دے چه مرکب وي د احد سره .

همچنين تَاسِعَ تِسْعِين بر شمر اين حكم را

ترجمه:همدغه رنګه تر (۹۹) پورې شمار کړه دا حکم .

باز ثاني كَمْ چو استفهام باشد ني خبر

ترجمه: دويم كَمْ کله استفهاميه وي چه خبريه نه وي .

ثالث ايشان كَأَيِّنْ رابع ايشان كَذَا

ترجمه: دريم د دې نه كَأَيِنْ دے څلورم د دې نه كَذَا دے .

تشريح:

هغه اسماء چه نصب ورکوي اسماء نکره لره بناء بر تميز دا څلور دي :

(١) لفظ د عشر چه مرکب وي د احد سره تر تسعون پورې .

(٢) كَمْ (٣) كَذَا (٤) كأَينْ .

١/ لفظ د عَشَرَ ، عِشْرُوْن او ثلاثون او اربعون او خمسون او ستون او سبعون او ثمانون اوتسعون دا چه کله مرکب وي د واحد، اثنان، ثلاث، اربع، خمس، ست، سبع ، ثماني او تسعٌ سره او لفظ د واحد او اثنين کله چه د عَشَرَ سره يو ځائي کړې نو طريقه د استعمال به بيا داسې وي که اول جزء مذکر وو نو دويم جزء به هم مذکر وي (يعنى که مميز مذکر وو نو تميز به هم مذکر وي) لکه مثال : اَحَدَ عَشَرَ طِفْلاً ، اِثْنَا عَشَرَ طِفْلاً ، اَحَدَ عَشَرَ رَجْلاً ، اِثْنَا عَشَرَ رَجُلاً .

او که اول جزء مؤنث وو نو دويم جزء به هم مؤنث وى (يعنې که مميز مؤنث وو نو تميز به هم مؤنث وي) لکه مثال: إِحْدٰى عَشَرَةَ طَالِبَةً ، اثْنَتَاعَشَرَةَ طَالِبَةً ، إِحْدٰى عَشَرَةَحافِظَةً ، اثْنَتَا عَشَرَةَحافظَةً .

طريقه دترکيب: د ثلاثة نه واخله تر تِسْعٌ پورې چه کله دا مرکب وي د عَشَرَ سره نو دويم جزء که مذکر وي نو اول جزء به مؤنث وي (يعنى خلاف القياس به وي) يا په بل تعبير سره که مميز مذکر وي نو تميز به مؤنث راوړې لکه مثال : ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلاً ، أَرْبَعَةَ عَشَرَ رَجُلاً ، خَمْسَةَ عَشَرَ كَوْكَباً ، سِتَّةَ عَشَرَ كَوْكَباً ، سَبْعَةَ

عَشَرَ كِتَاباً ، ثَمَانِيَةَ عَشَرَ قَلَماً ، تِسْعَةَ عَشَرَ بَاباً .

او كچرته دويم جزء مؤنث وي نو اول جزء به مذكر راوړي يعني كچرته تميز مؤنث وي نو مميز به ورلره مذكر راوړي لكه مثال: ثَلاثَ عَشَرَةَ امْرَأَةً ، اَرْبَعَ عَشَرَةَ امْرأَةً ، خَمْسَ عَشَرَةَ طِفْلَةً ، سِتَّةَ عَشَرَةَ حَافِظَةً ، سَبْعَ عَشَرَةَ طَالِبَةً ، ثَمَانِيَ عَشَرَةَ قَارِئَةً ، تِسْعَ عَشَرَةَ مَسْئَلَةً ، تِسْعَ عَشَرَةَ صِدِّيْقَةً .

او هر چه طريقه د واحد نه واخله تر تسع پورې چه دا كله مركب وي د عشرون سره او د هغې د أخواتو سره چې ثلاثون اربعون نه تر تِسْعون پورې نو دا په طريقه د عطف سره وي .

طريقه د تركيب : د واحد او اثنين كې چه كله د عشرون سره مركب وي كه اول مذكر وي نو دويم جزء به هم مذكر وي (يعنى كه مميز مذكر وي نو تميز به هم مذكر وي) لكه مثال : اَحَدوَّعشرون رَجلاً ، اِثْنانِ وعشرون رجُلاً ، احدوعشرون طالباً اِثْنان وَّ عشرون مجاهدًا ، أَحدوَّعشرون قلماً ، اِثنان وعشرون مُدَرِّسًا .

او كه اول جزء مؤنث وي نو دويم به هم مؤنث وي (يعنى كه مميز مؤنث وي نو تميز به هم مؤنث وي لكه مثال : إِحْدٰى وعشرون إِمْرَأَةً ، إِثنتانِ وعشرون اِمرأةً .

احدٰى وعشرون مُدَرِّسَةً ، اِثْنتان وعشرون مجاهدةً ، اِحدٰى وعشرون طِفْلَةً ، اِثْنتان وعشرون مُسْلِمةً .

او ثلاث نه واخله تر تسع پورې چه دا مرکب وي د عشرون او د هغې د أخواتو سره نو دا به خلاف القياس راځي ، كه اول جزء مؤنث وي نو دويم جزء به مذكر راوړې (يعنى كه مميز مذكر وي نو تميز به مؤنث راوړې) لكه مثال : ثلاثةً وَّعشرون رجلاً ، اربعة وَّعشرون رجلاً ، خمسة وَّعشرون كوكبا ، سِتَةَ وعشرون كتابًا ، سبعةً وعشرون طالبا ، ثمانيةً وعشرون قلما ، تسعة وَّعشرون دفترًا.

او كچرته اول مذكر وي نو دويم به مؤنث وي (يعنى كه مميز مؤنث وي نو تميز به ورلره مذكر راوړې) لكه مثال : ثلاث وَّعشرون اِمرأَةً ، اربع وَّعشرون طبيبةً .

خَمْس وَّعشرون ناقةً ، سِتَّ وَّعشرون طِفلةً ، سَبْعً وَّعشرون طالبةً ، ثماني وَّعشرون مسلمةً ، تِسْعةً وَّعشرون مِلْعَقَةً .

او هغه نور پدې باندې قياس كړه تر تسع و تسعون پورې .

(۲) كَمْ دے دا د اسماء كناياتو نه دے او دا د عدد مبهم لپاره راځي.

بيا كم په دوه قسمه دے : ۱/استفهامية ۲/خبرية .

۱/كم استفهاميه : چه متضمن وي معنى د استفهام لره لكه (كم رجُلًا ضربت) معنى څومره كسان تا وهلي دي ، او كم استفهاميه دا به خپل تميز ته نصب وركوي، لكه (كم رجلًا ضربتَ) .

طريقه دتركيب : (كم) مميز (رجُلًا) ئې تميز مميز سره د تميز نه دا مفعول بِه مقدم شو (ضرب) دا فعل شو (تَ) دا فاعل شو نو فعل

سره د خپل فاعل او مفعول بِه مقدم نه جمله فعليه خبريه شوه .

(۲) كم خبريه : چې متضمن نه وي معنى د استفهام لره او دا نصب ورکوي تميز ته، کچرته په مينځ کې فاصله وي بياهم نصب ورکوي (كَمْ عِنْدِي رَجْلًا) . ترجمه : څومره سړي دي زما سره .

نو دلته كَمْ مميز دے عندی، مضاف دے او، ياء ضمير دا مضاف اليه دے ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر شو او رَجُلًا تميز د كَمْ دے ، مميز سره د تميز نه دا مبتدا شوه، دلته په عندى سره فصل راغلې دے .

چه کله فصل نه وي د هغې مثال ذکر کوی (كَمْ رَجْلٍ ضربتُ) كَمْ مضاف مميز ، رجلٍ مضاف اليه تميز ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول بِه مقدم شو ، ضرب دا فعل شو ، تُ دا فاعل شو ، فعل سره د خپل فاعل او مفعول به مقدم نه جمله فعليه خبريه .

(۱) **فائده**: دكم استفهاميه اودكم خبريه فرق، دكم استفهاميه نه روسته به مفرد منصوب وي بناء بر تميز لكه :كم رَجُلًا عِنْدَک .

او كم خبريه نه روسته به مفرد مجرور وي بناء بر مضاف اليه : لكه كم مالٍ اَنْفَقْتُهُ، يا به جمع مجرور وي ، لكه: كَمْ رِجَالٍ لَقِيتُهُ .

(۲) **فائده**: كله كله مِنْ بيانيه داخليږي په مابين د كم او د تميز كې لكه : كم مِنْ رَجُلٍ لَقِيْتُهُ ، دا مثال د كم استفهاميه دے كم من مالٍ انفقته ، دا مثال د كم خبريه دے .

(۳) **فائده**: كله تميز د كم حذف كيدلې شي د وجې د قرينې نه لكه كَمْ مَالُك، چه دا په اصل كې داسې دے، كم دينارًا مالك.

(۳) دريم د اسماء كناياتو هغه كَأَيِّنْ دے چه دا مركب دے د كاف تشبيه او اَين نه او مراد ددې نه عدد مبهم دے لكه : (كَأَيِّنْ رَجُلًا لَقِيْتَ) او كله متمضن وي معنى داستفهام لره لكه (كأين رجلًا عندك) معنى ئې ده څومره سړى ستاسره دي .

(٤) كذا : چه دا هم د اسماء كناياتو نه دے او دا هم مركب دے د كاف تشبيه نه او ذا اسم اشارې نه او مراد د دې نه عدد مبهم دے او دا متضمن نه وي معنى د استفهام لره لكه (عندي كذا رجلًا)

ترجمه : زما سره دومره سړي دي .



النــــوع التاســـع:

نهمه نوعه :

نہ بود اسمائی افعالی کز ان شش ناصبند

ترجمه : اسماء افعال (۹) دي دارنګه شپږ پکې نصب ورکوي .

دُونَک بَلْہَ عَلَیْکَ حَیَّہَلْ باشد وہَا

ترجمه: يو دونک دے بل بله دے بل عليك دے بل حيَّهلْ دے او بل هَا دے .

پس رُوَیْدَ باز رافع اسم را ہَیْہَاتَ دَان

ترجمه: بل روید دے بیا دا رفع ورکوي اسم ته هيهات وشماره .

باز شَتَّانَ است سَرْعَانَ یاد گیر این بیتہا

ترجمه: او بیا شتَّان دے او سرعان دے یاد کړه دي بیت لره .

تشریح:

اسماء افعال : دیته څکه اسماء افعال وائی چه وي اسم خو په معنی د فعل وی او دا (۹) اسماء دي : ۱/ دُوْنَک ۲/ بَلْهَ ۳ عَلَیْكَ ٤/ حَیَّهَلْ ٥/ هَا ٦/ رُوَیْدَ ۷/ هَیْهَاتَ ۸/ شَتَّانَ ۹/ سَرْعَانَ.

پدي کي شپږ وضعه شوي لپاره د امر حاضر او نصب ورکوي

مابعد اسم ته بنا بر مفعوليت .

(۱) رُوَيْدَ : دا په معنى د أَمْهِلْ سره او دا به په اول د كلام كې راځى لكه رُوَيْدَ زَيْدًا اَىْ أَمْهِلْ زَيدًا ، معنى به داسې شي : ته مهلت وركړه زيد ته .

تركيب به داسې شي : رُوَيْدَ اسمِ فعل په معنى د امر حاضر سره پدې كې اَنْتَ فاعل شو او زَيْدًا مفعول بِه ، فعل سره د فاعل او مفعول بِه نه جمله فعليه انشائيه .

(۲) بَلْهَ : دا په معنى د (دَعْ) سره راځى لكه : بَلْهَ زَيْدًا .

ترجمه: پرېږده زيد لره .

تركيب : بَلْهَ اسم فعل په معنى د دَعْ سره ، په دېكې اَنْتَ دا فاعل شو او زيدًا ئې مفعول بِه شو ، فعل سره د فاعل او مفعول بِه نه جمله فعليه انشائيه .

(۳) دُوْنَكَ : دا په معنى د (خُذْ) سره راځي لكه : دُوْنَكَ زيدًا .

ترجمه: ونيسه زيد لره .

تركيب : دُوْنَكَ اسم فعل په معنى د خُذْ سره په دې كې اَنْتَ فاعل دے او زيدًا ئې مفعول بِه ، فعل سره د فاعل او مفعول بِه نه جمله فعليه انشائيه .

(٤) عَلَيْكَ : دا په معنى د اَلْزِمْ سره راځى لكه : عَلَيْكَ زَيْدًا .

ترجمه: لازم شه زيد سره .

ترکيب : عَلَيْكَ اسم فعل په معنى د اَلْزِمْ سره په دې كې اَنْتَ فاعل دے او زيدًا ئې مفعول بِه فعل سره د فاعل او مفعول بِه نه جمله فعليه انشائيه .

(٥) حَيَّهَلْ : دا په معنى د إِيْتِ سره راځى لكه : حَيَّهَلا الصلاةَ .

ترجمه : راشه مونځ ته .

ترکيب : حَيَّهَلْ اسم فعل په معنى د اِيْتِ سره په دې كې انت فاعل دے او الصلاةَ مفعول بِه ، فعل سره د فاعل او مفعول بِه نه جمله فعليه انشائيه .

(٦) هَا : دا په معنى د خُذْ سره دے لكه : هَا زَيْدًا .

ترجمه : ونيسه زيدلره .

ترکيب : ها اسم فعل په معنى د خُذْ سره په دې كې انت فاعل دے او زيدًا ئې مفعول بِه ، فعل سره د فاعل او مفعول بِه نه جمله فعليه انشائيه .

فائده : ددې شپږو افعالو فاعل به هميشه لپاره ضمير وي په واجب الإستتار سره ، چه تعبير ترې په أَنْتَ سره كيږي ، او درې اسماء افعال د فعل ماضي په معنى سره راځي او اسم ته رفع وركوي بناء بر فاعليت .

(١)هَيْهَاتَ : دا راځي په معنى د بَعُدَ سره لكه : هَيْهَاتَ زَيْدٌ .

ترجمه : لرې شوي زيد .



ترکیب : هيهات اسم فعل په معنى د بَعُدَ سره ، او زيد ئې فاعل دے ، فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعليه خبريه .

(۲) سَرْعَانَ : دا راځي په معنى د سَرُعَ سره لکه : سَرُعَانَ زيدٌ .

ترجمه : تيز شوے وو زيد .

ترکیب : سرعان اسم فعل په معنى د سَرُعَ سره او زيد ئې فاعل دے، فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعليه خبريه .

(۳) شَتَّانَ : دا راځي په معنى د اِفْتَرَقَ سره لکه : شَتَّان زَيْدٌ .

ترجمه : جدا شوے وو زيد .

ترکیب : شتان اسم فعل په معنى د افترق سره او زيد ئې فاعل دے ، فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعليه خبريه .

فائده : بعضې اسماء افعال په معنى د فعل مضارع سره راځي لکه قَدْ او قَطْ په معنى د پوره والي سره راځي او بَخٍ په معنى د ښه والى سره راځي .



سؤالات و تدريبات:

(۱) د اسماء افعال تعريف وكړه ؟ (۲) اسماء افعال په څو قسمه دي ؟

(۳) اسماء افعال ټول څو دي ؟ (٤) كَمْ په څو قسمه دے ؟

(٥) هغه اسماء چې نصب وركوي اسماء نكره لره بناء بر تميز هغه څو دي ؟

(٦) كم استفهاميه او كم خبريه كې څه فرق دے ؟

(۷) لفظ د واحد او اثنان چه مركب وي د عشر سره نو طريقه د تركيب به ئې څه وي ؟

(۸) د ثلاثة نه واخله تر تسعة پورې چه مركب وي د عشر سره نو طريقه د تركيب ئې څه ده ؟

(۹) په دې لاندې جملو كې چه كومه جمله صحيح وي هغې ته ټيک(✓) نشان او چه غلطه جمله وي هغې ته غلط(✗)نشان ولګوئ ؟

(7) هيهات اسم فعل په معنى د امر حاضر سره .

(۲) عليک اسم فعل په معنى د الزم سره .

(۳) د كم خبريه ما بعد مفرد مجرور وي .

(٤) د كم استفهاميه ما بعد مرفوع وي .

(٥) احد عشر رجلًا . اِحدٰى عشرة رجلًا .

(٦) احد عشر طفلةً . احد عشرة امرأَةً .

(۷) ثلاث عشرة امرأَةً . خمسة و عشرون كوكبًا .

❊❊❊

النـــوع العـــاشر:

لسمه نوعه :

نوع عاشر سیزده فِعلند کایشان ناقصند

ترجمه: لسمه نوعه (١٣) فعلونه دي لكه ناقص چه دي .

رافع اسمند وناصب درخبر چون مَا ولَا

ترجمه: رفع وركوي اسم ته او نصب وركوي خبر ته لكه ما او لا .

كَانَ صَارَ اَصْبَحَ اَمْسٰی واَضْحٰی ظَلَّ بَاتَ

ترجمه: كان صار اصبح امسى و أضحىٰ ظل بات .

مَافَتِئَ مَادَامَ مَاانفَكَّ لَيسَ باشد از قفا

ترجمه: مافتئ ما دام ماانفک ليس دے روسته .

مابَرِحَ مازال اَفعالي كزِينها مشتقند

ترجمه: ما برح ما زال او هغه افعال چه د دي نه مشتق دي .

هر كُجَا بيني همين حكم ست در جُمله روا

ترجمه: هر ځائي كې چه ويني هم دا حكم دے په ټولو كې جائز .

تشريح:

افعال ناقصه: ديته ځکه افعال ناقصه وائی چه دا ځانله په فاعل نهٔ تماميږي بلکه دا مفعول هم غواړي او مفعول غوښتل د دې نُقص دے، او دا افعال په جمله اسميه باندې داخليږي (يعنى په مبتدا او خبر باندې) مبتدا ته رفع ورکوي او خبر ته نصب ورکوي.

دا افعال تفصيلًا (۱۷) دي ، او اجمالًا (۱۳) دي .

(۱) **كان** : كان په دوه قسمه دي : ۱/ ناقصه ۲/ تامه .

كان ناقصه : په دوه معناګانو سره راځی اول معنى په ماضي سره راځي لکه : وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا .

ترجمه : او الله رب العالمين پوهه او حكمتونو والا دے .

دويم معنى د صار سره استعماليږي لکه : كَانَ الْفَقِيْرُ غَنَيًا ، أَي صَارَ الْفَقِيْرُ غَنِيًا . **ترجمه** : و ګرځيدو غريب مالداره .

طريقه د تركيب: كان فعل د افعال ناقصه ؤ ، الفقير دا اسم د افعال ناقصه شو ، غنيا دا خبر د افعال ناقصه شو ، كان فعل ناقصه سره د اسم او خبر نه جمله فعليه خبريه .

(۲) **كان تامه**: كان تامه ديته وائی : چه صرف په فاعل باندې تماميږي او خبر ته حاجت نه لري په دغه وخت کې به كان په معنى د ثبت سره وي لکه : كَانَ زَيْدٌ ، أَي ثَبَتَ زَيْدٌ .

طريقه د تركيب: كان فعل شو د افعال تامه نه زيدٌ ئې فاعل شو،

فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعليه خبريه .

(۲) **صَارَ** : دا راځی لپاره د انتقال د اسم د يو حقيقت نه بل حقيقت ته ، لکه : صَارَ الطِّيْنُ خَزَفًا .

ترجمه : وګرځيدو خټه کند ونې .

طريقه د ترکيب : صار فعل د افعال ناقصه نه الطين اسم د صار شو ، خزفًا دا خبر د صار شو فعل ناقص سره د اسم او خبرنه جمله فعليه خبريه .

يا صار راځی دپاره د انتقال د يو صفت نه بل صفت ته ، لکه : صَارَ زَيْدٌ غَنِيًا .   **ترجمه** : و ګرځيدو زيد مالداره .

فائده : کله کله صار تامه هم راځی خو معنی به ئې داسې وي انتقال د يو مکان نه بل مکان ته او په دغه وخت کې به متعدي وي په إِلیٰ سره لکه: صَارَ زَيْدٌ مِنْ بَلَدٍ إِلَي بَلَدٍ .

ترجمه: وګرځيدو زيد د يو کلي نه بل کلي ته .

(۳) **اَصْبَحَ** ، (٤) **اَضْحی** ، (٥) **اَمسی** : دا درې واړه راځی دپاره د پيوست کولو د مضمون د جملې د خپل وخت پورې چه صباح او مساء او ضحیٰ دے لکه : اَصْبَحَ زَيْدٌ غَنِيًّا .

ترجمه : حاصل کړو زيد مالداری په وخت د صباح کې .

طريقه د ترکيب : (اصبح) فعل د افعال ناقصه نه (زيد) دا اسم شو د افعال ناقصه او (غنيا) دا خبر شو ، اصبح فعل ناقص سره د

اسم او خبرنه جمله فعليه خبريه .

(۲) اَضْحٰی زَيْدٌ حَاكِمًا .

ترجمه : زيد ته حكومت حاصل شو په وخت د چاشت كې .

طريقه د تركيب: اضحٰی فعل د افعال ناقصه نه (زيد) دا اسم شو د افعال ناقصه او (حاكمًا) دا خبر شو اضحیٰ فعل ناقص سره د اسم او خبر نه جمله فعليه خبريه .

(۳) اَمْسٰی زَيْدٌ قَارِئًا .

ترجمه : زيد قرأَت حاصل كړې وو په وخت د بيګاه كې .

طريقه د تركيب : امسیٰ فعل د افعال ناقصه نه (زيد) دا اسم شو د افعال ناقصه او (قارِئًا) دا خبر شو ، امسیٰ فعل ناقص سره د اسم او خبرنه جمله فعليه خبريه .

(۱) **فائده**: دا پورتنی درې واړه په معنی د صار سره هم راتلې شي لكه : اَصْبَحَ الفَقِيْرُ غَنِيًا أَيْ صَارَ الْفَقِيْرُ غَنِيًّا ، اَمْسیٰ زَيْدٌ كَاتِبًا أَيْ صَارَ زَيْدٌ كَاتِبًا ، اَضْحٰي الْمُظْلِمُ مُنِيرًا أَيْ صَارَ الْمُظْلِمُ مُنِيْرًا .

(۲) **فائده**: دا درې واړه كله كله تامه هم راځی لكه : اَصْبَحَ زَيْدٌ أَيْ دَخَلَ زَيْدٌ فِي الصُّبْحِ ، اَمْسٰی زَيْدٌ أَيْ دَخَلَ زَيْدٌ فِي الْمَسَاءِ ، اَضْحٰی بَكْرٌ أَيْ دَخَلَ بَكْرٌ فِي الضُّحٰی .

طريقه د تركيب : دخل فعل شو بكرٌ دا ئې فاعل شو فِيْ جار شو او الضحٰی ئې مجرور شو ، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغو

متعلق شو د دَخَلَ پورې فعل سره د خپل فاعل نه او د متعلق نه جمله فعليه خبريه ، او دا نور هم په دې باندې قياس کړه .

(٦) **ظَلّ** ، (٧) **بَاتَ**: دا دواړه راځی دپاره د اقتراب د مضمون د جملې د لَيْلٌ او نَهَارٌ پورې لکه : ظَلَّ زَيْدٌ کَاتِبًا .

ترجمه : حاصل کړل زيد ليکل د ورځې .

طريقه د ترکيب: ظل ، فعل د افعال ناقصه نه (زيد) دا اسم شو د افعال ناقصه او (کاتبًا) دا خبر شو ظَلَّ فعل ناقص سره د اسم او خبر نه جمله فعليه خبريه ، او بَاتَ هم په دې باندې قياس کړه .

فائده : او کله کله دا دواړه په معنى د صار سره هم راځی لکه مثال ، ظَلَّ الصَّبِيُّ بَالِغًا ، أَيْ : صَارَ الصَّبِيُّ بَالِغًا .

ترجمه : وګرځيدو ماشوم بالغه .

بات الشاب شيخًا أَيْ صَارَ الشَّابُ شيخًا .

ترجمه : وګرځيدو ځوان بوډا .

(٨) **مَا دَامَ**: دا راځی دپاره د توقيت د شی په موده د ثابتولو د خبر کې دپاره د اسم ، نو خامخا به د دې نه مخکې به يا جمله اسميه وي او يا به فعليه وي ، جملې اسمي مثال: زَيْدٌ قَائِمٌ مَا دَامَ عَمْرٌو قَائِمًا .

طريقه د ترکيب: زيد دا مبتدا شوه قائمٌ دا به خبر شی نو مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه ، مَادَامَ فعل د افعال ناقصه نه عمرٌو دا اسم شو د افعال ناقصه او (قائمًا) دا خبر شو مَادَامَ فعل



ناقص سره د اسم او خبر نه جمله فعليه خبريه جمله فعليه مثال : أَجْلِسُ مَادَامَ زَيْدٌ جَالِسًا .

تركيب : اَجْلِسُ دا فعل دے ، په دې كې أَنَا فاعل دے ، فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعليه خبريه مادام فعل د افعال ناقصه نه (زيدٌ) دا اسم شو د افعال ناقصه او (جالِسًا) دا خبر شو مَادَامَ فعل ناقص سره د اسم او خبر نه جمله فعليه خبريه .

(۹) **مَا زَالَ** ، (۱۰) **مَا بَرِحَ** ، (۱۱) **مَا انفَكّ** ، (۱۲) **مَا فَتِئَ**: هر يو د دې څلورو افعالو نه دا راځى لپاره د هميشه والي د خبر ثابتولو د هغه اسم دپاره چه كوم محكې ذكر وي (يعنى خبر به هميشه ثابت كوي اسم لپاره او نفي ورسره لازمه ده) لكه مثال :

(مَا زَالَ زَيْدٌ عَالمًا) . **ترجمه** : هميشه زيد عالم وي .

(مَا بَرِحَ زَيْدٌ صَائِمًا) . **ترجمه** : هميشه زيد روژه دار وي .

(مَا انْفَكَّ زَيْدٌ عَاقِلًا) . **ترجمه** : هميشه زيد عاقل وي .

(مَا فَتِئَ زَيْدٌ فَاضِلًا) . **ترجمه** : هميشه زيد غوره وي .

طريقه د تركيب: (مازال) دا فعل د افعال ناقصه نه (زيدٌ) دا اسم شو د افعال ناقصه او (عالمًا) دا خبر شو مَازَالَ فعل ناقص سره د اسم او خبرنه جمله فعليه خبريه ، او دا نور هم په دې باندې قياس كړه .

(۱۳) **لَيسَ**: دا راځى دپاره د نفي د مضمون د جملې دا په زمانه

پورې او بعضې وائي په هره زمانه کې لکه: (لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا) .

ترجمه : زيد ولاړ نه دے .

طريقه د ترکيب : ليس ، فعل د افعال ناقصه نه (زيدٌ) دا اسم شو د افعال ناقصه او (قائمًا) دا خبر شو لَيْسَ فعل ناقص سره د اسم او خبرنه جمله فعليه خبريه .

(۱) **فائده**: مخکې کول د أخبارو په اسم د افعال ناقصه باندې جائز دي سره د باقي پاتې کيدو د عمل او معنى نه لکه : (كَانَ قَائِمًا زَيْدٌ) .

(۲) **فائده**: مخکې کول د اخبارو په نفس د دې افعالو باندې هم جائز دے خو علاوه د ليس نه ، او هغه افعال چه په اول کې ئې(مَا) راغلې وي نو بعضې وائی چه په دې افعالو باندې هم خبر مخکې کيدې شی علاوه د(ما دام) نه او هر چه تقديم د اسماؤ په افعالو باندې نو دا جائز نه دي .

(۳) **فائده**: حکم د مشتقاتو د دې افعالو په شان د حکم د دې افعالو دے په عمل کې .

❊❊❊

النــــوع الحـــادي عـــشر:

يو لسمه نوعه :

دیگر افعال مقارب در عمل چون ناقصند

ترجمه: نور افعال مقاربه دي چه په عمل کې لکه ناقص داسې دي.

هست آن کَادَ کَرُبَ با اَوْشک دیگر عَسٰی

ترجمه: دا کاد او کرب او اوشک او بل عسٰی دے .

تشريح:

(۱) افعال المقاربه : ديته افعال مقاربه ځکه وائی چه دلالت کوي په نزدې والي باندې او دا مشهور څلور افعال دي :

۱/ عَسى ۲/ كَادَ ۳/ كَرُبَ ٤/ اَوْشَكَ .

دا افعال په اعتبار د معنی سره په درې قسمه دي :

۱/ افعال مقاربه ، ۲/ افعال رجاء ، ۳/ افعال شروع .

(۱) افعال مقاربه : دا دلالت کوي په دې خبره باندې چه د اسم لپاره حصول د خبر قريب دے او دا درې افعال دي : ۱/ كاد ۲/ كرب ۳/ اوشک ، لکه: (كَادَ زَيْدٌ أَنْ يَأْكُلَ) .

ترجمه : نزدې ده چه زيد خوراک وکړي .

(۲) افعال رجاء : ديته وائی چه دلالت کوي په دې خبره باندې

چه اسم لپاره حصول د خبر امید دے ، او دا افعال مشهور دري دي:

١/ عسٰی ٢/ حَرٰی ٣/ إِخْلَوْ لَقَ ، لکه : عسٰی اللّٰه أَنْ يَعْفُوَ عنهم .

ترجمه : امید دے چه اللّٰه دوي ته معافي وکړي .

(٣) افعال شروع : دیته وائی چه دلالت وکړي په دې خبره باندې چه دې اسم شروع کړې په حصول د خبر کې ، او مشهور افعال د دې دا دي : ١/ اَخَذَ ٢/ جَعَلَ ٣/ طَفِقَ

٤/ عَلِقَ ٥/ اَنْشَأَ ٦/ اَقْبَلَ ٧/ هَبَّ .

لکه مثال : فَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ .

ترجمه: شروع شو دواړه په جنت کې چه پاڼې په ځان لګولې .

عمل د دې افعالو څه دي ؟

د دې عمل په شانته د افعال ناقصه دے چه په جمله اسمیه باندې داخلیږي اسم ته رفع ورکوي او خبر ته نصب ورکوي ، مبتدا ته به اسم د دې ویل کیږي او خبر ته به خبر د دې ویل کیږي .

فرق په مابین د افعال ناقصه او افعال مقاربه کې دا دے : چه افعال ناقصه خبر عام وي ، ماضي مضارع ، امر ، نهي ، اسم ، دا ټول راتلې شي ، لکه مثال : وَ كَانَ اللّٰهُ عَلَيْمًا حَكِيْمًا ، كان رسولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ. او د افعال مقاربه خبر صرف فعل مضارع راځي ، بیا دا فعل مضارع به کله په أَنْ سره وي لکه : عَسٰی زَيْدٌ أَنْ يَخْرُجَ ، او کله به بغیر د أَنْ نه وي لکه : عَسٰی زَيْدٌ يَخْرُجُ .

سؤالات وتدريبات:

(١) افعال مقاربه مشهور څو دي ؟

(٢) افعال مقاربه په اعتبار د معنى سره په څو قسمه دے ؟

(٣) افعال رجاء څو دي ذکر ئې کړه ؟

(٤) افعال شروع څو دي ذکر ئې کړه ؟

(٥) د افعال مقاربه عمل څه دے ؟

(٦) د افعال مقاربه او افعال ناقصه کې فرق ذکر کړه ؟



النوع الثاني عشر:

دولسمه نوعه :

دیگر افعال یقین وشک بود کان بر دو اسم

ترجمه: نور افعال د يقين او شک دي چه دا په دوه اسمونو داخليږي .

چون در آید ہر یکے منصوب ساز دہر دو را

ترجمه : کله چه دا راشي هر يو نو نصب ورکوي دواړو ته .

خِلْتُ باشد با عِلْمْتُ پس حَسِبْتُ با زَعَمْتُ

ترجمه: خلتُ دے سره د علمت نه بيا حسبتُ دے سره د زعمتُ نه.

پس ظَنَنتُ باراَیتُ پس وَجَدتُ بے خطاء

ترجمه: بيا ظننت دے سره درأيت نه بيا وجدت دے په غير دخطانه.

تشريح:

ديته افعال قلوب وائی ځکه چه د دې تعلق د زړه سره دے ، او ديته افعال شک او يقين هم ويل کيږي ځکه بعضې د شک لپاره راځی او بعضې د يقين لپاره راځي ، او دا داخليږي په مبتدا او خبر باندې او دواړو ته به نصب ورکوي بناء بر مفعوليت او دا (۷) افعال دي، په دې کې درې د شک لپاره راځي او درې د يقين لپاره راځي او يو پکې مشترک دے .

اولنې درې کوم چه د شک لپاره راځي هغه دا دي:

۱/ حَسِبْتُ ۲/ ظننت ۳/خِلْتُ لکه : حَسِبْتُ زيدًا فاضِلًا .

ترجمه : ما ګمان وکړو په زيد باندې چې غوره دے .

(۱) **طريقه د ترکيب**: حَسِبَ فعل شو (تُ) دا فاعل شو زيدًا مفعول اول فاضلًا مفعول ثاني شو ، فعل سره د خپل فاعل او دواړو مفعولينو نه جمله فعليه خبريه .

(۲)**طريقه دترکيب**: ظَنَنْتُ بَکْرًا نَائِمًا ، ظَنَنَ دا فعل شو (تُ) فاعل شو بکرًا مفعول اول نائِمًا مفعول ثاني شو فعل سره د خپل فاعل او دواړو مفعولينو نه جمله فعليه خبريه .



(۳) **طريقه د تركيب** :خِلْتُ خَالِدًا قَائِمًا ، خِلْ فعل شو تُ دا فاعل شو خالدًا مفعول اول نائِمًا مفعول ثاني شو فعل سره د خپل فاعل او دواړو مفعولينو نه جمله فعليه خبريه .

فائده : ظَنَنْتُ چه ظنَّةٌ نه واخستل شي په معنی د تهمت سره راځي نو بيا دوه مفعولين نه غواړي په يو پوره کيږي لکه : ظَنَنْتُ زَيْدًا . **ترجمه** : تهمت مې ولګو په زيد باندې .

طريقه د تركيب : ظنن دا فعل شو تُ فاعل شو زيدًا مفعول به شو فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعليه خبريه .

(۲) دويم : كوم درى چه د يقين لپاره راځى :

۱/ عَلِمْتُ ۲/ رأَيتُ ۳/ وَجَدْتُ : لکه مثال :

(۱) عَلِمْتُ زَيْدًا مَيْتًا . **ترجمه**: پوهه شوم چه زيد مړ دے .

طريقه د تركيب:علم فعل شو او تُ فاعل شو زَيْدًا مفعول اول ميتًا مفعول ثانى فعل سره د فاعل او دواړو مفعولينو نه جمله فعليه خبريه .

(۲) رَأَيْتُ زَيْدًا فَاضِلًا . **ترجمه**:پوهه شوم زه چه زيد غوره دے.

طريقه د تركيب: رأى فعل شو تُ فاعل شو زيدًا مفعول اول فاضلًا مفعول ثاني فعل سره د فاعل او دواړو مفعولينو نه جمله فعليه خبريه .

(۳) وَجَدْتُ الْبَيْتَ رَهِينًا. **ترجمه**:پيدا مې کړو کور ګانه شوے.

طريقه د تركيب: وجد فعل دے تُ فاعل دے البيت مفعول اول

رهينا مفعول ثاني فعل سره د فاعل او دواړوه مفعولينو نه جمله فعليه خبريه .

(۱) **فائده**: كله چه عَلِمْتُ د عَرَفْتُ په معنى باندې راشي (يعنى د پيژندلو په معنى) او رَأَيْتُ د اَبْصَرْتُ په معنى راشي (يعنى د ليدلو په معنى سره) او وَجَدْتُ په معنى د أَصَبْتُ سره شى (يعنى د مندلو په معنى نو بيا دا افعال د يو مفعول تقضا كوي او دويم مفعول ته حاجت نه لري .

(۳) چه هغه مشترک وي په مابين د يقين او شک کې هغه زَعَمْتُ دے لكه مثال : زَعَمْتُ أَنَّ اللّٰهَ غفورٌ .

ترجمه : يقين كوم په الله باندې چه بښونكې دے .

طريقه د تركيب: زعم فعل دے تُ فاعل دے شو لفظ الله مفعول اول غفورًا مفعول ثاني فعل سره د فاعل او دواړو مفعولينو نه جمله فعليه خبريه .

او شک لپاره هم راځی: لكه مثال : زَعَمْتُ الشَّيْطَانَ شَكُوْرًا.

ترجمه: ګمان مې كړے په شيطان باندې چه شُكر ګزار دے .

طريقه د تركيب: زعم فعل شو تُ فاعل شو الشيطان مفعول اول شكورًا مفعول ثاني فعل سره د فاعل او دواړو مفعولينو نه جمله فعليه خبريه .

(۲) **فائده**: په دې افعال قلوب كې اكتفاء په يو مفعول باندې جائز نده ، ځكه دا دواړه په مثل د يو مفعول دے .

(۳) **فائده** : چه رأيْتُ او عَلِمْتُ په دې باندې دخول د همزې وكړې نو بيا به درې مفعولينو ته متعدي كيږي .

لكه مثال : أَعْلَمْتُ زيدًا عَمْروًا فَاضِلًا .

ترجمه: خبرمې كړو زيد په دې خبره چه عمرو غوره دے .

طريقه د تركيب: اَعْلَمَ فعل دے تُ فاعل دے زيدًا مفعول اول عمرًوا مفعول ثاني فاضلًا مفعول ثالث فعل سره د فاعل او د درې واړو مفعولينو نه جمله فعليه خبريه ، او رأيت هم په دې باندې قياس كړه .

(٤) **فائده**: زيادت د همزې په عَلِمْتُ او رَأَيْتُ ، پورې خاص دے نورو افعالو كې نه راځى ، ځكه دا سماعي دے د عربو نه اوريدلې شوے په دې طريقه سره .

(٥) **فائده**: أَنْبَأَ ، نَبَّأَ ، أَخْبَرَ ، خَبَّرَ دا هم متعدي كيږي درې مفعولينو ته .

سؤالات و تدريبات:

(١) افعال قلوب ته ولې افعال قلوب وائى ؟

(٢) افعال قلوب ټول څو دي مختصر ئې ذكر كړه ؟

(٣) د يقين لپاره كوم افعال راځى او شك لپاره كوم راځى ؟

(٤) مشترك كوم يو فعل دے په دې كې ؟

(٥) ددې جملو طريقه د استعمال ذكر كړه :

أَعلمْتُ زيدًا عمروًا فاضلًا. زعمتُ أَنَّ اللهَ غفورًا .

أَعلمْتُ زيدًا عمروًا فاضلًا . خِلتُ بكرًا جالسًا .

النوع الثالث عشر:

دیار لسمه نوعه :

رافع اسمائی جنس افعالِ مدح و ذم بود

ترجمه: رفع ورکوي اسم جنس ته افعال مدح او ذم .

چار باشد نِعْمَ بِئْسَ سَاءَ آنکه حَبَّذَا

ترجمه: دا څلور دي : ١/ نعم دے ٢/ بئس دے ٣/ ساء دے ٤/ او بل حبذا دے .

تشریح:

افعال مدح او ذم څلور دي : ١/ نعم ٢/ بئس ٣/ ساء ٤/حبَّذا .

افعال مدح هغې ته وائی چه په دې سره د چا صفت بیان شي او د چا تعریف او مدح چه وشي نو هغې ته مخصوص بالمدح وائی .

افعال ذم هغې ته وائی چه په هغې سره د چا بد صفات بیان شي او د چا چه بد صفت بیان شي نو هغې ته مخصوص بالذم وائی .

تعداد: افعال مدح دا دوه دي : ١/ نِعْمَ ٢/ حَبَّذَ .

او افعال ذم هم دوه دي : ١/ بئس ٢/ ساءَ .

شرائط: د نِعْمَ ، سَاءَ او بِئْسَ د دې لپاره څلور شرائط دي ، د دې درې واړو نه به یو شرط موجودیدل ضروري وي .

١/ د دې فاعل به معرّف باللام وي لكه مثال : نِعْمَ الرَّجُلُ زيدٌ .

٢/ چه د دې فاعل به معرف باللام نه وي خو اضافت به ئې معرف باللام ته شوے وی لكه مثال : نِعْمَ صَاحِبُ الْعِلْمِ بَكْرًا .

٣/ يا به داسې وی چه افعال مدح او ذم ديكې به يو ضمير وي هغه به مميز شی او روسته به ورله اسم نكره منصوبه راوړی هغه به ئې تميز شي لكه مثال : نِعْمَ رَجُلًا زيدٌ . دلته په نعم كې ضمير دے هغه به مميز كړې او روسته اسم به ورله تميز كړې .

٤/ كله به د دې فاعل اسم موصول وي او ورسره به صله هم ذكر وي لكه مثال : نِعْمَ مَا تَقَرأُ الْقُرْآن .

او دغه رنګه مثالونه دساء او بئس راواخله:

بِئْسَ الرَّجُلُ بَكْرٌ. بِئْسَ صَاحِبُ الْقَوْمِ بَكْرٌ.

بِئْسَ رَجُلًا بَكْرٌ. بِئْسَ مَا تَقْرَأُ التَّوْرَات .

د ساء مثالو نه :

سَاءَ الرَّجُلُ خَالِدٌ . سَاءَ صَاحِبُ الرَّجُلِ خَالِدٌ .

سَاءَ رَجُلُ خَالِدٌ . سَاءَ مَا يَحْكُمُوْنَ .

شرائط د حبّذا: د دې فاعل هميشه لپاره لفظ د ذَا اسم اشاره وي او كه روسته ترينه اسم منصوب راشي نو دا به مميز شي او اسم منصوب به ورله تميز شي لكه مثال : حَبَّذَا رَجُلًا زَيْدٌ .

طريقه د تركيب: حَبَّ ، دا فعل شو ذا مميز رجلًا تميز مميز سره د

تميز نه دا فاعل شو او ، زيدٌ دا مخصوص بالمدح شو .

فائده : اكثر اوقاتو كې د دې افعالو نه مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم حذف كيږي لكه مثال : بِئْسَ الْمَصِيْر ، أَيْ جَهَنَّمَ .

طريقه د تركيب : (١) (نِعْمَ الرَّجُلُ زيدٌ) نعم فعل مدح الرجل دا فاعل شو ، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه خبر مقدم زيدٌ مخصوص بالمدح مبتدا مؤخر خبر مقدم سره د مبتدا مؤخر نه جمله اسميه انشائيه .

(٢) نعم فعل د افعال مدح نه الرجل فاعل ، فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعليه خبريه ، زيدٌ دا خبر شو او مبتدا ئې محذوف ده چه هُوَ دے ، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه انشائيه .

سؤالات و تدريبات:

(١) افعال مدح څو دي ذكر ئې كړے ؟

(٢) افعال ذم څو دي ذكر ئې كړئ ؟

(٣) د نعم او بئس او ساء لپاره څو شرائط دي ذكر ئې كړئ ؟

(٤) د لاندې جملو تركيب وكړئ ؟

نِعْمَ الْعَبْدُ اَيُوْبُ . نِعْمَ صَاحِبُ الْفَرَسِ زَيْدٌ .

حَبَّذَا رَجُلًا زيدٌ . نِعْمَ مَا تَقْرَأُ الْكِتَابَ .

❋❋❋



عـــوامـــل قيـــاســـيّة:

عوامل قياسي :

بعد ازان هفت قياسي اسم فاعل مصدر ست

ترجمه: روسته د دي نه وه (٧) قياسي دي : ١/ فاعل ٢/ مصدر .

اسم مفعول ومضاف وفعل باشد مطلقا

ترجمه: ٣/ اسم مفعول ٤/ مضاف ٥/ فعل مطلق .

پس صفت باشد كه آن مانند اسمِ فاعلست

ترجمه: بيا صفت دے لكه اسم فاعل .

هفتم اسم تام باشد ناصِبِ تميز را

ترجمه: ٧/ اسم تام دے چه نصب وركوى تميز ته .

تشريح:

قياسي (٧) عوامل دي: ١/ اسم فاعل ٢/ مصدر ٣/ اسم مفعول ٤/ مضاف ٥/ فعل مطلق ٦/ صفت مشبه ٧/ اسم تام .

(١) **اسم فاعل** : وَهُوَ مَا اشْتَقَّ مِنْ فِعْلٍ لِمَنْ قَامَ بِهِ عَلٰى مَعْنٰى الْحُدُوْثِ .

ترجمه : دا هغه اسم دے چه جوړوى د فعل مضارع معلوم نه او

دلالت کوي د کارکونکې په ذات باندې او معنی مصدري ورپورې قائم وي په طريقه د دوام سره لکه مثال : الضارب ، دا دلالت کوي په و هونکی باندې او وهل دې پورې هميشه قائم دی .

عمل د اسم فاعل : يَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ الْمَعْرُوْف ، اسم فاعل چه د کوم فعل نه جوړ دے نو د هغې په شان عمل کوي که فعل ئې لازم وو نو صرف فاعل ته به رفع ورکوي لکه مثال : زيدٌ قائمٌ ، دلته مفعول نه غواړي که فعل متعدي وو نو بيا به فاعل سره مفعول هم غواړي .

لکه مثال : زيدٌ ضَارِبٌ عَمْروًا دلته مفعول غواړي ځکه ضارب فعل متعدي دے .

اسم فاعل جوړولو طريقه : اسم فاعل دا دوه قسمه افعالو نه جوړيږي : ١/ فعل ثلاثي مجرد .   ٢/ فعل غير ثلاثي مجرد .

(١) د ثلاثی مجردو نه اسم فاعل مطلقًا په وزن د فَاعِلٌ باندې راځی لکه : نَاصِرٌ .

(٢) او غير ثلاثی مجردو نه په وزن د مَفْعَلٌ يا په وزن د مُفْعِلٌ باندې راځی لکه : مَضْرِبٌ مُكْرِمٌ .

(٢) **اسم مصدر**: مصدر په لغت کې ځائې د وتلو ته وائې او د دې نه هم اسماء او افعالو اشتقاق کيږي .

اصطلاح کې : إسْمٌ يدُلُّ علٰى الحَدَثِ المُجَرَّدِ عَنِ الزَمَانِ .

مصدر نوم د هغه معنی حدثی دے چه اشتقاق د فعل ترې کيږي

بالذات او اسماء ترې کيږي بالواسطه .

عمل د اسم مصدر: يَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ الْمَعْرُوْف .

اسم مصدرنه چه کوم فعل جوړيږي نو د هغې په شان عمل کوی که فعل ئې لازم وؤ نو صرف فاعل ته به رفع ورکوي که فعل متعدي وؤ نو بيا به فاعل سره مفعول هم غواړي .

اسم مصدر اقسام:

مصدر د ثلاثي مجردو په عدد کې علماؤ اختلاف دے جمهور علماء وائی چه بيشماره دي .

او امام سيبويه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وا ئی : چه دا (٣٤) وزنونه لري .

او د ثلاثي مزيد فيه مصادر په (١٠) لس وزنونو باندې راځی .

او رباعي مجرد مصدر يو دے چه هغه فَعْلَلَةٌ دے .

(٣) **اسم مفعول**: وَهُوَمَا اشْتَقَّ مِنْ فِعْلٍ لِمَنْ وَقَعَ عَلِيهِ .

دا هغه اسم دے چه جوړ وي د فعل مضارع مجهول نه د دې لپاره چه دلالت کوي په داسې ذات باندې چه د فاعل فعل په هغې باندې واقع شوے وي لکه مثال : مَضْرُوْبٌ .

ترجمه : وهل کړې شوے ؤو يو سړے .

عمل د اسم مفعول : يَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ الْمَجْهُوْلِ .

اسم مفعول چه د کوم فعل نه جوړ دے نو د هغې په شان عمل کوی نائب فاعل ته رفع ورکوي او باقي مفعولينو ته نصب ورکوي .

اسم مفعول جوړولو طريقه : اسم مفعول دا دوه قسمه افعالو نه جوړيږي : ١ / فعل ثلاثي مجرد .   ٢/ فعل ثلاثي مزيد فيه .

(١) دثلاثي مجردونه اسم مفعول په وزن دمَفْعُوْلٌ باندې راځي لکه مَنْصُوْرٌ

(٢) او غير ثلاثي مجردونه په وزن د مُفْعَلٌ باندې راځی لکه مُكْرَمٌ .

(٤) **اسم مضاف**: مضاف دا صيغه د اسم مفعول ده د باب إِفْعَال نه لغت کې نسبت کړې شوی ته وائي .

اصطلاح کې : مضاف هغه اسم دے چه نسبت ئې جزء ثانی ته وشي او جزء ثاني متضمن وي معنی د شرط لره لکه : عبدُ اللّٰهِ .

عمل د مضاف څه دے دا مضاف جزء ثاني ته جر ورکوي (يعنی مضاف اليه مجرور کوي) لکه مثال لفظًا : غلامُ زيدٍ ، يا محلًا : غلامُهُ ، يا تقديرًا :غلامُ موسٰی .

(٥) **اسم تام**: دا هغه اسم ته وائی : چه موجوده حالت کې بل اسم ته مضاف نه وي لکه مثال : مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا ، دلته کې راحةٍ اسم تام دے چاته ئې اضافت نه دے شوي .

عمل د اسم تام څه دي : اسم تام دا تميز ته نصب ورکوي ، او اسم تام ته به مميز وائی او روسته به ورله تميز وي ، مميز سره د تميز نه دا به جزء د جملې جوړ شي .

بيا اسم تام د تماميدلو لپاره شپږ (٦) صورتونه دي چې هغې ذکر کول دلته مناسب نه دي .

(٦) **صفة مشبّه**: هِيَ لَفْظٌ مَوْضُوْعٌ مِنْ مَصْدَرِ اللَّازِمِ لِلدَّلَالَةِ عَلٰى الثُّبُوْتِ.

دا يو لفظ دے چه جوړ شوے دے د مصدر لازم نه ددې لپاره چه دلالت وکړی په ثبوت باندې .

عمل د صفت مشبَّه څه دے : يعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ اللَّازِمِ ، د فعل لازم پشان عمل کوي فاعل ته رفع او مفعول به نه علاوه باقي منصوباتو ته نصب ورکوي ، لکه مثال : زَيْدٌ حَسُنَ غُلَامُهُ ، دلته حسن صفت مشبَّه دے او غلامُ ته ئې رفع ورکړې ده پشانته د خپل فعل چه حَسُنَ دے .

صفت مشبّه جوړولو طريقه : صفت مشبه اکثر د فعل لازم نه جوړيږي د باب سَمِعَ او د باب كَرُمَ نه راځی او قليلًا د نورو بابونو نه هم راځي .

(٦) **فعل مطلق** : چه دلالت کوی په کولو د کار باندې مطلقًا که دا فعل ماضي وي او که مضارع وي او که امر وي او که لازم وي او که متعدي وي .که لازم وي فاعل ته به رفع ورکوي لکه مثال : قَامَ زَيْدٌ .

طريقه د ترکيب: قام فعل شو ، زيدٌ فاعل شو ، فعل سره د خپل فاعل نه جمله فعليه خبريه . او که متعدي وي نو مفعول به ته به نصب ورکوي ، لکه مثال : ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا .

طريقه د ترکيب: ضرب فعل شو ، زيد فاعل شو ، عمرًوا دا ئې مفعول به شو فعل سره د خپل فاعل نه او مفعول به نه جمله فعليه خبريه.

❊❊❊

سوالات وتدریبات:

(۱) افعال مدح او ذم څو دي ؟

(۲) نعم الرجل محمدٌ ، د دې کلمې طریقه د استعمال ذکر کړه ؟

(۳) د نعم او بئس او ساء د دې شرائط ولیکه ؟

(٤)بئس الرجل فرعون د دې کلمې طریقه د استعمال ذکر کړه؟

(٥) حَبَّذَا رجلًا زیدٌ د دې کلمې طریقه د استعمال وکړه ؟

(٦) عوامل قیاسیه څو دي ذکر ئې کړه ؟

(۷) د اسم فاعل تعریف ذکر کړه او د ثلاثي مجردونه اسم فاعل په کوم وزن راځي ؟

(۸) داسم مفعول تعریف ذکر کړه او د ثلاثي مجردونه اسم مفعول په کوم وزن راځي ؟

(۹) دصفت مشبه تعریف ذکر کړه او دا عمل د کوم فعل کوي؟

(۱۰) مصدر د کوم فعل عمل کوي ؟

(۱۱) د اسم تام تعریف ذکر کړه ؟

(۱۲) مصدر په لغت او اصطلاح کې چاته وائی ؟

(۱۳) لاندې کلماتو کې عوامل قیاسیه قسمونه جدا کړه ؟

عِنْدِيْ خَاتَمٌ فِضَّةٍ ،طَالِبٌ ، مَطْلُوْبٌ ، مَنْصُوْرٌ ، ضَرْبًا ، ضَرَبَ . حَسَنٌ ، سَمْعًا ، حَافِظٌ .خَرَجَ ، لَكَ مَنْوَانِ سَمْنًا .

❊❊❊



عـــوامل معنويه:

عوامل معنوي :

عامل فعل مضارع معنوي باشد بدان

ترجمه: پوهه شه چه عامل د فعل مضارع معنوي دے .

همچنین معنی بود عامل یقین در مبتدا

ترجمه: همدارنګه معنی د عامل یقینی ده په مبتدا کښ .

دولت واقبال و جاهِ شاهزاده بر کمال

ترجمه:دولت او بخت او مرتبه دې وی د باچاه ځوی لره د کمال سره .

در تضاعف باد دائم ختم کردم بر دُعاء

ترجمه:همیشه دې وی سره د دوچند والی دا نظم مې ختم کړو په دعاء سره .

تشریح:

عامل معنوي هغه عامل ته وائی : چه تلفظ پرې نهٔ کیږي او په عقل سره معلومیږي .

عامل معنوي په دوه قسمه دي : ۱/ مبتدا او خبر ۲/ فعل مضارع .

(۱) په مبتدا کې عامل ابتدا دے لکه مثال : زیدٌ قائمٌ ، دلته په

زيدٌ او قائمٌ کې چه کومه رفع ده نو دا عامل معنوي ورکړي ده .

۲/ فعل مضارع چه کله خالی وي د عواملو نواصبو او جوازمو نه لکه مثال : يضْرِبُ ، ينْصُرُ .

د نورو عواملو نقشه په اول د کتاب کې ذکر شوے .

سؤالات وتدريبات:

(۱) عوامل په څو قسمه دي ؟ (۲) عوامل ټول څو دي ؟

(۳) عوامل لفظي تعريف وکړه او ټول څو دي ؟

(٤) عوامل معنويه څو دي ذکر ئې کړه ؟

(٥) دعوامل نقشه مکمل ذکر کړه؟ (٦)عوامل اسمي ټول څو دي؟

(٧) عوامل حرفي ټول څو دي ؟

(٨)عوامل سماعي چاته وائی او ټول څو دي ؟

(٩) په لاندې جملو کې عوامل اسمي حرفي فعلي لفظي او معنوي سماعي قياسي جدا کړه ؟

باللهِ، خَرَجَ ، قَاتِلٌ ، مَجْمُوْعٌ ، إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ ، يَخْرُجُ ، محمدٌ كرِيمٌ ، لَنْ يضربَ ، بئس الرجلُ فرعون، لم يقرأْ ، إلٰى البيت ، صار الفقير غنيا .

تم الكتاب بحمد لله ومنه وكرمه.

فهرست مضامين